پوهنوال نسیم ګل توتاخېل ۲۰۱۶/۰۳/۳۰

د عالي نباتاتو اناتومي، مارفولوژي او ايمبريولوژي درسي کتاب چاپ شو



دا کتاب، د کابل پوهنتون، ساینس پوهنځي د بیولوژي څانګې استاد، پوهنوال نسیم ګل توتاخېل د بیولوژي څانګې د دوهم کال د وروستي (مني) سمستر له پاره، په روانه او ساده پښتو تالیف کړی دی.
د کتاب منځپانګه، د هغه تحصیلي نصاب (Curriculum) او مفرداتو په پام کې نیولو سره تدوین شوی، چې په لومړي سر کې د جرمني د (بُن) پوهنتون او بیا وروسته د هندوستان د ډهلي پوهنتون او همدارنګه په خپله د بیولوژي څانګې استادانو په ګډو هلو ځلو سره جوړ؛ د لوړو زده کړو وزارت د واکمنو مقامونو له خوا منل شوي او دا دی د عمل په ډګر کې پلي کېږي.
له نېکه مرغه د لوړو زده کړو وزارت، د هېواد په کچه د ټولو پوهنتونونو، پوهنځیو او څانګو د درسي کتابونو د تالیف له پاره تحصیلي نصاب او مفردات توحید کړي دي. د دې خبرې مانا داده، چې هر نوی تالیف شوی کتاب او له هغې جملې څخه پورتنی کتاب د ټول هېواد په پوهنتونونو، پوهنځیو او اړونده څانګو کې د تدریس وړ دی او تر پنځو کلونو پورې د نوي موازي کتاب اړتیا نه شته. د ټول هېواد اړونده پوهنځي او څانګې کولای شي، د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي د بیولوژي څانګې او مولف په اجازه، د دې کتاب سافټ (Soft) کاپي تر لاسه او د خپل ضرورت په اندازه یې چاپ کړي.
د کتاب مولف د پورتني مضمون ۱۵ ــ ۲۰ کلنه د تدریس تجربه لري او د خپلو لکچر نوټونو سر بېره یې له لاندې نوو او تازه سر چینو څخه هم ډېر کار اخیستی دی:
۱ ــ د هند په ډهلي پوهنتون کې لومړی ۲۰۰۸ ــ ۲۰۰۹ او دویم وار د ۲۰۱۲ کال، هر ځل د دوه نیمو میاشتو له لکچرونو، کنفرانسونو، مسلکي موزیمونو، تجربو او سیمینارونو څخه په ګټې اخیستنې سره؛
۲ ــ د جاپان په توکیو او کیوتو پوهنتونونو کې د علمي کنفرانسونو، تجربو د تدریس لارو ــ چارو، علمي موزیمونو له لیدنو ــ کتنو څخه؛
۳ ــ د ډهلي پوهنتون د پوهانو په مشوره، د ډهلي د مرکزي کتابتون په اجازه د نوو او تازه چاپ شوو آثارو له فوتو کاپیو څخه؛
۴ ــ د جرمني له مونشن ښار څخه د دوستانو په مرسته د نوو آثارو تر لاسه کول؛

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۵ ــ د امریکي له بوستون څخه د نوو علمي آثارو تر لاسه کول؛
۶ ــ په کابل کې د امریکې له فرهنګي مرکز (Asia Foundation) څخه د تازه، ښایسته آثارو څخه؛
۷ ــ د دغو پورتنیو یاد شوو آثار په ګډون، ټول ټال د ۶۱ پښتو، دري، جرمني او انګلیسي ژبو آثارو او انټرنټ څخه ډېره ګټه اخیستل شوې ده.

د دې کتاب ځانګړتیاوې:

الف : د افغانستان په کچه دا لومړنی اثر دی، چې د عالي نباتاتو د اناتومي، مارفولوژي او ایمبریولوژي په هکله لیکل کېږي.
ب : د افغانستان په کچه دا لومړنی اثر دی، چې د عالي نباتاتو د اناتومي، مارفولوژي او ایمبریولوژي په هکله په پښتو لیکل کېږي.
ج : کتاب نه یوازې په پښتو ملي او رسمي ژبه لیکل شوی، بلکې تدریس یې هم په پښتو کېږي. په دې ترتیب سره اوس اوس پښتو هم تر یوې اندازې پورې علمي او اکاډمیک چاپېریال ته ننوتلې ده.
د : کتاب په ترتیب سره له پیلامې، لیک لړ، سریزې او له عمومي اهمیت څخه سر بېره؛ په دریو بېلابېلو برخو او پنځلسو څپرکو کې ځای پرځای شوی دی . د کتاب په اوږدو کې ۲۱۳ انځورونه، ۱۷ جدولونه، د انځورونو لیک لړ، اخیستنې او په پای کې د مولف علمي آثار او همدارنګه په ټولنیز ډګر کې د ده له لاسته راوړنو څخه ډېره لنډه یادونه هم شوې ده. دا ښیي چې توتاخېل د علمي او اکاډمیک فعالیت تر څنګ په ټولنیزه او سیاسي برخه کې هم په موازي ډول کارنامې ترسره کړې دي. کتاب په (۳۸۳) مخونو پای ته رسېږي.

د کتاب نیمګړتیاوې:

دا طبیعي خبره ده، چې هر لومړنی کار لږې یا ډېرې نیمګړتیاوې لري، ښکاره خبره ده، چې دا کتاب هم له چاپې او غیر چاپې نیمګړتیاوو څخه خالي نه دی. د کتاب چاپ تور او سپین دی او د کابل پوهنتون په مطبعه کې چاپ شوی دی. له همدې امله ځینې جدولونه او انځورونه لږ تت ښکاري، خو هوډ لرو چې که خدای کول په رنګه چاپ کې به دا ټولې نیمګړتیاوې لرې شي.
د منځپانګې په اړه د لاتین، علمي او مسلکي لغتونو او اصطلاحاتو له پاره مناسب د پښتو نوم او اصطلاح پیدا کول هم آسانه کار نه دی، خو دغه نیمګړتیا به هم انشاءالله په راتلونکو چاپونو کې په پام کې ونیسو.
له ښاغلو لوستونکو څخه هیله کېږي، چې خپل وړاندیزونه د نوي چاپ له پاره په دغې پتې را ولېږي:
tutakhail@yahoo.com

موږ مخکې له مخې له دوی څخه مننه کوو.

په درناوي
مولف

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ